victim support

# له پيبنو نه کرکه کوئ

## ملاتړ يي مه کوئ – راپور يي ورکړئ

د پيبنو/جرمونو په وړاندي د کرکي د قربانيانو ملاتړ

په مشارکت کي سره د

west sussex county council

**find the strength**

### د يوې کرکجني پيښي په هکله بايد څنګه راپور ورکړئ:

تاسو کولی شئ چي د کرکي د هرې پيښي يا جرم په هکله Hate Incident Support Service ته په محرمانه توګه په 528 99 38 0845 يا 1021 075 0845 نمبر راپور ورکړئ. ليږنونه ته له دوشنبې څخه تر جمعي پورې د سهار له ٨ بجو څخه د ماښام تر ٨ بجو پورې کسان ناست وي.

همدارنګه تاسو کولی شئ چي په انلاين بڼه دلته راپور ورکړئ:
www.westsussex.gov.uk/harmreduction

او تاسو کولی شئ چي Hate Incident Reporting Form (د کرکي د پيښي په هکله د راپور ورکولو فورمه) له SussexHateIncidentReport@victimsupport.org.uk څخه وغواړئ.

د قرباني مرستي (Victim Support) سره سره، تاسو کولی شئ چي د نورو ادارو لکه سسيکس پوليسو (Sussex Police)، د اتباعو د مشورې ادارې (Citizens Advice Bureau)، خپل ځايي کونسل، د استوګني مامور، ښوونځيو يا ځوان کارکوونکو له لارې هم راپور ورکړئ.

Making Communities Safer – Working Together

### نور ګټور نمبرونه

Sussex Police (سسيکس پوليس):
0845 60 70 999

په بيړني حالت کي ډايل کړئ: 999

Victim Support in Sussex
(د قربانيانو حمايه په سسيکس کي):
0845 38 99 528

Hate Incident Reporting Line
(د کرکجني پيښي د راپور ورکولو لين):
0845 075 1021

د کرکي او تعصب جرمونه او پيښي به په West Sussex (لويديز سسيکس) کي ونه منل شي. ځان په چوپتيا سره مه خرابوئ.

زمونږ د قربانيانو د ملاتړ لين **0845 30 30 900** هر هغه چا ته چي د کرکي په اساس متاثر شوي وي معلومات او ملاتړ ورکوي.

تاسو کولی شئ چي د Text Relay په کارولو سره زمونږ د هرو فون نمبرونو څخه مخکي د 18001 په يوځای کولو له مونږ سره اړيکه ونيسئ.

Published by Victim Support
President HRH The Princess Royal

Victim Support, Hallam House,
56-60 Hallam Street, London, W1W 6JL
Telephone: 020 7268 0200 Fax: 020 7268 0210
**www.victimsupport.org.uk**

Charity registration: 298028 Company no: 2158780
Registered in England. Limited by guarantee.
Registered office as above.

November 2012

P453

Hate Crime West Sussex leafletEn1-3 1-3 11/22/2012 3:43:39 PM

## Hate Incident Support Service څه دی؟

Victim د Hate Incident Support Service Support خیریه ادارې له خوا له West Sussex Harm Reduction Team سره په مشارکت کې اداره کیږي. مونږ هغو خلکو ته چې له لاندې حالتونو سره مخامخ شوي وي وړیا او محرمانه یو په یو مرسته برابروو:

- نژاد پرستي
- مذهبي کرکه
- د همجنس پرستۍ کرکه
- د جنس بدلونې له امله کرکه
- د معیوبیت له امله تبعیض.

مونږ کولی شو چې هم له تاسو سره خواخوږي وښیو او هم عملي مرسته درسره وکړو، او کولی شو چې دا په یوې پیښې سمدلاسه وروسته وکړو او هم وروسته.

## څنګه مونږ کولی شو چې مرسته وکړو:

د هغې مرستې ډول چې مونږ کولی شو له تاسو سره یې وکړو مشتمله ده پر:

- د پیښې یا ستاسو د انتخابونو په هکله ستاسو د پوښتنو په برخه کې مرسته
- داسې یو څوک چې د پیښې په هکله ورسره په محرمانه توګه خبرې وشي (که اړتیا وي مونږ کولی شو چې ترجمانان برابر کړو)
- تاسو ته د پولیسو او د محکمې د کړنلارو یا پروسیجرونو په هکله معلومات درکول
- له تاسو سره مرسته کول چې د پیښې په هکله له نورو سازمانونو سره معامله وکړئ
- په محکمه کې ملاتړ که تاسو د یوه شاهد په توګه وغوښتل شئ
- د مرستې له نورو عملي منابعو سره ستاسو په تماس کې کول
- له میندو او پلرونو سره مرسته کول چې ماشومان په مؤثره توګه حمایه کړي، په هغه صورت کې چې هغوی د پیښې په واسطه متاثر شوي وي.

## کله چې تاسو له دغې ادارې سره تماس ونیسئ څه پیښیږي؟

قربانیان، شاهدان یا هر بل څوک کولی شي چې د کرکې د پیښې په هکله راپور ورکړي. تاسو کولی شئ چې له مونږ سره یا د کرکې د پیښې د راپور ورکولو د فورمې د ډکولو له لارې (پاس وګورئ) یا زمونږ victim care team (د قربانیانو د پاملرنې ټیم) ته پر 0845 38 99 528 نمبر ټیلیفون وکړئ.

دغه اداره دوه لوی هدفونه لري:

- چې تاسو ته یوه لاره درکړي چې په محرمانه توګه د پیښو راپور ورکړئ
- چې له تاسو سره مرسته وکړي چې د اړتیا په صورت کې مرسته او ملاتړ ترلاسه کړئ.

که تاسو مونږ ته یوه د کرکې د پیښې په هکله د راپور ورکولو فورمه راولیږئ او ووایئ چې تاسو غواړئ چې مونږ درسره تماس ونیسو، زمونږ ځانګړی د قضیو پرمخ بیوونکی یا د روزل شوي رضاکار مرستندوی ټیم یو غړی به له تاسو سره تماس ونیسي او د هغې مرستې په هکله به درسره خبرې اترې وکړي چې تاسو ورته اړتیا لرئ او د ملاتړ ترتیب به ونیسي.

که تاسو داسې انتخاب کړئ چې زمونږ victim care team (د قربانیانو د پاملرنې ټیم) ته ټیلیفون راوکړئ، هغوی به د پیښې جزیات واخلي او د هغې مرستې په هکله به درسره خبرې اترې وکړي چې مونږ کولی شو برابره یې کړو.

په هر صورت کې به، مونږ ستاسو شخصي جزیات بل هیچا ته پرته له دې لومړی له تاسو څخه پوښتنه وکړو، ورنه کړو.

## یو څو مشورې

که تاسو د کرکې له پیښو سره مخامخ کیږئ، کوشش وکړئ چې ځان مو په لوی خطر کې وانه چوئ. که تاسو له مسؤل شخص سره په تماس کې کیږئ، کوشش وکړئ چې په خوندي توګه ترې ځان لیرې کړئ یا یوه لا ډېر عام ځای ته لاړ شئ. که کولی شئ، د نېټو او وختونو په شمول د ټولو پیښو یو ریکارډ واخلئ. په یاد ولرئ چې هیڅوک هم د دې وړ نه دی چې له دې امله له ستونزو سره مخامخ شي چې هغه څوک دي او مرسته موجوده ده.

Hate Crime West Sussex leafletEn4-6 4-6 11/22/2012 3:43:45 PM